ورځپانه

هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز | یکشنبه د محرم الحرام ۱۰ مه ۱۴۴۷ق کال، د چنګاښ ۱۵ مه ۱۴۰۴ ل کال، د جولای ٦ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ۸۳ یمه، پرله پسې ګڼه ۷۴٦ مه، اتمه دوره

سږ کال په هرات کې ۷۰ پراختیایي پروژې پلې کېږي

د هرات ښاروالۍ خبر ورکړی، چې سږ کال به په هرات ښار کې د نږدې ۹۰۰ میلیونو افغانیو په لګښت د ۷۰ پراختیایي پروژو کارونه پیل کړي.
په دغو پروژو کې د سړکونو، ویالو، لارو، بلیوارډونو، د ښار د رڼا او شنه چاپېریال جوړول شامل دي او ټاکل شوې، چې د هرات په ټول ښار کې پلې شي.
د هرات ښاروالۍ ویاند محمد ناصر ارمل ویلي: «په ۱۴۰۴ مالي کال کې، موږ د ۹۰۰ ملیونو افغانیو په ارزښت ۷۰ پراختیایي او زیربنایي پروژې په پام کې نیولې، دواړه د پراختیایي بودیجې او له ۱۴۰۳ څخه تر ۱۴۰۴ پورې د زېرمې او لطرډ بودیجې څخه.»
د هرات یو شمېر اوسېدونکي له ښاروالۍ غواړي، چې دا پروژې په کیفیت او معیارونو سره پلې کړي.
قراردادي شرکتونه وايي، چې د ساختماني پروسې هره ورځ څارنه کېږي ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې پروژې په کیفیت سره پلې کېږي.
تېر کال، د هرات ښاروالۍ د نږدې یو میلیارد افغانیو په ارزښت ۱۶۰ کوچنۍ او لویې پروژې پیل کړې.

اروپا ته د باکو بندر له لارې افغاني صادرات پیلېږي



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند د اذربایجان د باکو له نړیوال بحري بندره لیدنه وکړه.
ښاغلي برادر اخوند د دغه بندر امکانات او د انتقالاتو بهیر له نږدې کتلي او له اذربایجاني مسؤلینو یې غوښتي، چې له دې لارې د افغانستان صادراتو ته اسانتیاوې برابرې کړي.
د باکو نړیوال بحري بندر او د وسپنې پټلۍ مسئولینو ویلي: د دغه بندر له لارې چې د لاجوردو دهلیز په مسیر کې موقعیت لري، ترکیې او اروپا ته د افغانستان د صنعتي توکو، کرنیزو محصولاتو او کاني توکو صادراتو ته چمتو دي. دوی همدا راز د وسپنې پټلۍ په واسطه د ایران له لارې روسیې ته هم د افغانستان د سوداګریزو توکو انتقالاتو ته چمتووالی وښود.
د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو ګډې تخنیکي کمېټې وټاکلې، څو د دغه بندر له لارې د ګډې سوداګرۍ او ټرانزیټ ... ۳مخ

افتتاح پروژه حفظ و مراقبت بند سلطان در غزنی

پروژه حفظ و مراقبت بند سلطان در غزنی دیروز با حضور محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی، مولوی عبدالصمد جاوید والی غزنی، مشاورین، روئسا، علماء، بزرگان قومی و جمعی زیادی از باشندگان محل افتتاح گردید.
سرپرست وزارت آب و انرژی در این مراسم اهمیت بند سلطان را در راستای مدیریت آب و انکشاف زراعت حیاتی خواند.
آقای منصور تاکید کرد که خوشبختانه به اثر تلاش های امارت اسلامی؛ نظام شرعی، امنیت، انکشاف اقتصادی، وحدت قومی و فضای همپذیری در کشور به وجود آمده است. به همین خاطر مردم هم مسئولیت دارند تا با اخلاص، اطاعت و وفاداری از این نظام اسلامی حمایت کنند.
در همین حال والی غزنی در این مراسم با ابراز قدردانی از فعالیت های وزارت آب و انرژی پروژه بند سلطان را یک دستاورد ارزشمند در زمینه مدیریت آب عنوان کرد.
از سوی هم داکتر فاروق اعظم مشاور مقام وزارت آب و انرژی در این مراسم اظهار داشت که جای خوشحالی است که هر روز مردم افغانستان در فضای امن شاهد افتتاح پروژه های عام‌المنفعه در ولایات ... ۳مخ

له افغان کډوالو سره د ایراني پولیسو پر ظالمانه چلند نیوکه شوې

د ملګرو ملتونو کارپوهانو په یوه راپور کې ویلي: سلګونه افغانان او مذهبي او نژادي اقلیتونه په ایران کې د جاسوسۍ په تور نیول شوي دي.
په راپور کې راغلي، چې دغه توقیفونه د ایران او اسرائیلو له ۱۲ ورځنۍ جګړې وروسته شوي دي.
راپور کې له افغان کډوالو سره د ایراني پولیسو پر ناوړه چلند هم نیوکه شوې او په کې راغلي چې کډوال له سپکوونکو او ناوړو کړنو سره مخ شوي دي.
د ملګرو ملتونو راپور چې پرون خپور شوی له ایرانه غوښتي چې د دې ډول چلندونو مخه ونیسي.
افغان کډوالو هم د ایراني پولیسو له چلنده شکایت کړی او د اسرائیلو او ایران له جګړې وروسته افغانستان ته هم د کډوالو ځپه ماته شوې ده.
د ملګرو ملتونو د شمېرو له مخې، یوازې د جولای په لومړۍ نېټه شاوخوا څلویښت زره افغانان له ایرانه افغانستان ته ستانه شوي چې اکثره یې په زور ډیپورټ شوي دي.

۱۵ ولایتونو کې د باران او سېلابونو اټکل

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هوا پېژندنې ریاست خبر ورکړی، چې د هېواد په ۱۵ ولایتونو کې د تېز باران، تالندې برېښنا، تېزو بادونو او سېلابونو د پېښېدو اټکل شوی.
د حکومت د هوا پېژندنې اداري ویلي، چې دا اټکل په نورستان، کونړ، لغمان، ننګرهار، کابل، کاپیسا، پنجشیر، پروان، لوګر، غزني، میدان وردګو، زابل، پکتیا، خوست او پکتیکا ولایتونو کې دی، چې د باران کچه به په بېلابېلو سیمو کې له ۱۰ څخه تر ۴۵ ملي مترو پورې وي. یادې اداري زیاته کړې، چې په ختیځو ... ۳مخ

سږکال د لوګر پر ۴۰۰ جریبه ځمکه هنجه کرل شوې

د لوګر ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مسئولینو ویلي چې په دغه ولایت کې د هنجې بوټي کرکیله د تېر ۱۴۰۳ کال په پرتله سږ کال ۳ سلنه زیاته شوې ده.
د یاد ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د عوایدو آمر قاري عبدالبصیر شاهد باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې د (اف. جي. اې) موسسې په همکارۍ د دغه ولایت په محمدآغې ولسوالۍ او د مرکز په بېلابېلو سیمو کې لسګونو بزګرانو ته د هنجې بوټي تخمونه وېشل شوي، چې د کرکیلې کچه یې لوړه کړې ده.
ده زیاته کړې چې تېر کال د دغه ولایت پر ۳۰۰ جریبه ځمکه د هنجې بوټی کرل شوی وو، خو سږکال پر نږدې ۴۰۰ جریبه ځمکه د هنجې بوټي کرل شوي دي.
د یاد ریاست د مسئولینو په وینا د هنجې بوټي یوازې د ورې او غويي میاشتو کې اوبو ته اړتیا لري او له هغې وروسته بې اوبو هم وده کوي.

غور کې له مسلکي او عقیدتي زده کړو د لسګونو پولیسو فراغت

غور کې له مسلکي او عقیدتي زده کړو د لسګونو پولیسو فراغت
د غور امنیتي مسئولین وايي، چې د یاد ولایت د امنیې قوماندانۍ د تاسیساتو د کنډک ۵۰ تنه سرتېري له یو روزنیز کورس څخه فارغ شول.
د یادې قوماندانۍ ویاند مولوي عبدالرحمن بدري باختراطلاعاتي آژانس ته ویلي چې فارغو شویو سرتېرو د نظام د تعریف، ارزښتونو، د پولیسو مفاهیمو، د ګزمو ډولونو او د اړوندو مسئولیتونو او مکلفیتونو، د ګزمې ډسپلین، د پوځي رتبو معرفي کولو، د چک پاینټونو او له خلکو سره د پولیسو د قانوني او انساني چلند په برخو کې مسلکي زده کړې کړې دي.
ورته مهال فارغانو هم د هېواد په ګوټ ګوټ کې اسلامي نظام ته د خدمت کولو چمتووالی ښودلی دی.

کندز کې سلګونه جریبه ځمکه دولتي تثبیت شوه

د شمال زون د غصب شویو امارتي ځمکو قضیو ته د رسېدنې اختصاصي محکمې د کندز ولایت په امام صاحب ولسوالۍ کې د ۱۵۰۳ جریبه ځمکې د سندونو او مدارکو په بررسۍ سره پرېکړه وکړه، چې یاده شوې ټوله ځمکه امارتي ده.
یاده ځمکه د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ په حلقه کول کلي کې موقعیت لري او د ځمکو له غصبه د مخنیوي کمېسیون له دې وړاندې د هغې موضوع بررسي کړې او د ځمکو له غصبه د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد قانون د ۱۷ مې مادې له مخې یې دوسیه رسماً د شمال زون د غصب شویو امارتي ځمکو قضیو ته د رسېدنې اختصاصي محکمې ته سپارلې وه.
یادې اختصاصي محکمې... ۳مخ

د غازي عبدالله اخکزي د مقبرې ډبره ورغول شوه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د فرهنګ او هنر د معین مولوي عتیق‌الله عزیزي په ځانګړې هدایت، د تاریخي آبداتو ریاست د مسلکي انجنیرانو له لورې او د ولسي خلکو په همکارۍ د غازي عبدالله اخکزي د مقبرې د پېژندنې ډبره، چې په دې وروستیو کې زیانمنه شوې وه، بیا ورغول شوه.
د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ویلي: غازي عبدالله اخکزی چې د پرنګي اشغال پر وړاندې د ملي پاڅون له مهمو مشرانو څخه ګڼل کېږي، مزار یې د کابل ښار اړوند ریشخورو سیمه کې واقع دی.
د ویلو وړ ده، چې د اسلامي امارت له بیا حاکمیت وروسته د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له پراختیایي بودیجې او د همکارو بنسټونو له لورې د ملي آرشیف ودانۍ، غور کې د جام تاریخي منار حفاظتي چارې ... ۳مخ

کابل کې د شپږیزې لیګ لسم پړاو پیلېږي

د افغانستان کرېکټ بورډ خبر ورکړی، چې د شپږیزې کرېکټ لیګ د سیالیو لسم پړاو به د روان کال د چنګاښ میاشتې په ۲۸ مه د کابل په کرېکټ لوبغالي کې پیل شي.
د کرکټ اداري د راپور له مخې، دغه پړاو چې د «اتلانو لیګ» هم ورته ویل کېږي، د پنځو لوبډلو په ګډون ترسره کېږي او ټمه ده په دې پړاو کې به ټولټال ۲۱ لوبې ترسره شي. په تېر شل اوورېز پړاو کې د افغانستان د کرېکټ ستورو په ګډون سره، د آمو، بند امیر، بست، مس‌عینک او سپین‌غر لوبډلو سیالي وکړه. ویل کېږي، چې د شپږیزې لیګ دغه لسم پړاو به هم د با استعداده لوبغاړو لپاره یوه ښه موقع وي، څو خپل استعدادونه لا څرګند کړي.

پنجشېر کې یو تن د لامبو پر مهال ډوب او مړ شوی

د پنجشیر مسئولینو ویلي: د یاد ولایت په شتل ولسوالۍ کې یو کس د لامبو پرمهال ډوب شوی او ژوند یې بایللی دی.
د مسئولینو په وینا دا کس د عنابې ولسوالۍ د پوهنې آمریت کارکوونکی و او د لامبو پرمهال یې ژوند بایللی دی. څو ورځې مخکې هم په پنجشیر کې څو ځوانان د لامبو پرمهال ډوب او مړه شوي وو. د ویلو وړ ده، چې د هېواد په بېلابېلو... ۳مخ

سرلیکنه

قانونمنده فرهنګي پالیسي پر اسلامي اساساتو ولاړېږي!

شعر او ادب د ملتونو د فرهنګي هویت، ارزښتونو او فکري استقلال د انځور ښکارندويې وسیلې دي. افغانستان، چې د شعر او شاعرۍ ژور فرهنګي او دیني میراث لري، اوس د اسلامي امارت تر مشرتابه لاندې د فرهنګي نظم، ادبي محتوا او د شعري بهیر د سالمې ادارې لپاره نوی خوځښت پیل شوی.
د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) له لوري د مشاعرو د تنظیم د قانون توشېح او ورسره ترلې ښوونیز سمینار، د فرهنګي سیاست جوړونې او د ادبي حرکت د تنظیم یوه مهمه کړۍ ده، چې موخه یې د شعر د محتوا، اهدافو او ټولنیز رسالت له سره تنظیم او پالنه ده. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا جوړ شوی دريځ ورځنی سمینار، چې د دغه وزارت ولایتي رئیسان پکې شامل وو، نه یوازې د مشاعرو د تنظیم قانون د وضاحت او تفهیم لپاره یو مهم اقدام و، بلکې د فرهنګي وحدت او مسئولیت د یووالي څرګندوی هم و. دغه سمینار د شعر او ادب د نظم، ارزښت او د اسلامي کلتور د پالنې په برخه کې د امارت ژمنتیا وښوده، چې غواړي ادبي بهیر د اسلام، افغانیت او ټولنیزو ارزښتونو مطابق وساتي. د سمینار په ترڅ کې، نه یوازې د مشاعرو قانون مفصل تشریح شو، بلکې لوړپوړو چارواکو، د ادب د روح، د شاعرانو د رسالت او د فرهنګي پالیسۍ پر مهمو اړخونو رڼا واچوله او ټینګار یې وکړ، چې شعر باید د ولسونو د یووالي، د اسلامي نظام د پیاوړتیا او د دښمن د تبلیغاتي دسیسو پر ضد یوه اغېزمنه وسله وګرځي. دا قانون، چې په یوه مقدمه، درېیو بابونو، دوو فصلونو او ۱۳مادو کې ترتیب شوی، د امارت له خوا نه یوازې د ادبي شتمنۍ د پالنې لپاره توشېح شوی، بلکې هدف یې د مشاعرو د محتوا، تشکیلاتو او د شاعرانو د مکلفیتونو تنظیم دی. دا اقدام د تبلیغاتي انحرافاتو پر ضد یو اصولي، قانوني او شرعي دریځ دی، چې له دې وروسته به د مشاعرو بهیر تر قانوني چتر لاندې تنظیمېږي.
د ولایتي رئیسانو ونډه او نظرونه هم د سمینار یوه مهمه برخه وه، چېرې چې دوی خپلې ستونزې، تجربې او وړاندیزونه د وزارت له چارواکو سره شریک کړل او دوه اړخیزه مشوره، د تطبیقي تجربو تبادله او د ګډ مسئولیت فضا یې رامنځته کړه، چې پر بنسټ به یې ولایتي ریاستونه د قانون د پلي کېدو لپاره لا ډېر چمتووالی وښيي.
شاعرانو، لیکوالو او فرهنګي فعالانو ته د هڅونې، ملاتړ او اسانتیاوو برابرولو ژمنه ورکړشوه او ولایتي رئیسانو ته سپارښتنه وشوه، چې د خپلو ریاستونو دروازې د ادب د خادمانو پر مخ پرانیستې وساتي او دوی ته د خدمت، تشویق او پالنې عملي زمینه برابره کړي.
اوس د پلي کوونکو ادارو، شاعرانو، ادیبانو او فرهنګي بنسټونو مسئولیت دی چې دا قانون په عمل کې پلی او ثابت کړي، ترڅو افغانستان له ادبي اړخه هم یو منظم، قوي او اسلامي تصویر وړاندې کړي. دا ځکه، چې قانونمنده فرهنګي پالیسي پر اسلامي اساساتو ولاړېږي!

د افغان بیرغ پورته کېدل د رسمیت سیاسي او ملي ارزښت!

عبدالرحمن فضلي

د افغانستان اسلامي امارت له هغې ورځې چې واک یې په ټول هېواد کې په سوله ییز ډول تأمین کړ، د متقابل احترام، ښه ګاونډیتوب او مسئول تعامل پر اصولو ولاړه بهرنۍ پالیسي غوره کړې. دغو اصولي دریځونو د وخت په تېرېدو د نړۍ د ځینو سترو سیاسي او اقتصادي ځواکمنو هېوادونو پام ځان ته ور اړولی. له نېکه مرغه، د روسیې له لوري د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه د همدې سیاستونو پایله ده، چې د افغان ملت لپاره یو تاریخي، ملي او باعزته پرمختګ بلل کېږي.
د روسیې دا پرېکړه د دغه هېواد د بهرنیو چارو د وزیر سرګي لاوروف د وړاندیز او د ولسمشر ولادیمیر پوتین د فرمان پر بنسټ شوې ده او په کابل کې د روسیې سفیر دیمیتري ژیرنوف دا پرېکړه رسماً د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي ته ابلاغ کړه. دا نه یوازې یو ډیپلوماتیک عمل و، بلکې یو ستر سیاسي پیغام هم و، چې د افغانستان د نظام مشروعیت ته د یوه ستر نړیوال ځواک درناوی څرګندوي.د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر له دې پرېکړې هرکلی وکړ او دا یې د متقابل درناوي، دوه اړخیز تعامل او سیاسي واقعبینۍ یو ښکاره انځور وباله. نوموړي ټینګار وکړ چې دا عمل به د افغانستان او روسیې ترمنځ اړیکو ته یو نوی رُخ ورکړي، د اعتماد فضا به نوره هم ژوره شي او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي همکارۍ افقونه به پراخ شي. دا ګام د هغو هېوادونو لپاره هم یو الهام بخښونکی مثال ګڼل کېږي، چې تر اوسه یې د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه ځنډولې ده. وروسته له هغې چې روسیې په یوه مهم ډیپلوماتیک اقدام کې د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژاند، د هېواد دننه د اسلامي امارت چارواکو، سیاسي څېرو او هېوادوالو

د دغه پرمختګ هرکلی کړی او تمه لري، چې نور هېوادونه هم ورته ګام واخلي. د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح‌الله مجاهد د روسیې پرېکړه ((مثبت او مهم ګام)) بللې او ویلي یې دي: ((موږ د روسیې له دغه اقدام څخه هرکلی کوو، دا کار به د دوه اړخیزو سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا لپاره زمینه برابره کړي.)) قطر کې د اسلامي امارت سفیر محمد

سهیل شاهین له یوې روسي رسنۍ سره په مرکه کې ویلي، چې ځینې نور هېوادونه به هم د روسیې د پرېکړې په تعقیب اسلامي امارت په رسمیت وپېژني. نوموړي زیاته کړې: ((ښایي په راتلونکو اوونیو یا میاشتو کې ښه خبرونه واورو.)) د بهرنیو چارو وزارت دریم سیاسي رئیس محمد ذاکر جلالي ویلي: اسلامي امارت ثابته کړه، چې د سیمې او نړۍ هېوادونو سره یو داسې تعامل ته داخلېدای شي، چې د ټولو ګټې پکې خوندي شي.د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي انعام‌الله سمنګاني ویلي، چې روسیې له افغانستان سره د تعامل لپاره اصولي او ډیپلوماتیکه لاره غوره کړه. نوموړي زیاته کړې، چې دا د اسلامي امارت د غوره بهرنۍ پالیسۍ له لاسته راوړنو څخه شمېرل کېږي. حافظ انس حقاني د روسیې له خوا د اسلامي امارت رسمیت پېژندنې ته په اشارې سره ویلي: له

اسلامي امارت سره رسمي تعامل یو روښانه واقعیت دی، چې هېڅوک ترې انکار نه شي کولای .نوموړي زیاته کړې، د فشار او لرېوالي پالیسي هېڅ پایله نه لري او د ستونزو د حل لپاره یوازینۍ لاره تعامل او خبرې دي. د سیاسي چارو شنونکی ادریس محمدي ځانګړي ویلي، چې د روسیې له لوري د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه د حکومت په بهرني سیاست

کې یوه ستره لاسته راوړنه ده. د کابل ښار اوسېدونکي، د روسیې له لوري د افغانستان اسلامي امارت رسمیت پېژندنې ته په اشارې سره ویلي: هیله لري چې نور هېوادونه هم ورته اقدام وکړي. دا غبرګونونه په داسې حال کې شوي دي، چې روسیې لا ورمه ورځ په یوه لوی اقدام کې د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژانده او په مسکو کې د افغانستان د سفارت پر ودانۍ د اسلامي امارت رسمي بیرغ هم پورته شو. په هرحال د نړیوالو سیاستونو په قاموس کې، رسمیت پېژندنه یوازې یو تشریفاتي اعلان نه دی؛ بلکې دا یو حقوقي، سیاسي، اقتصادي او ستراتیژیک اقدام دی، چې پر بنسټ یې دواړه خواوې یو بل د مشروعو، حاکمو او مستقلو نظامونو په توګه مني. دا ډول پېژندنه د دې سبب ګرځي، چې یو هېواد کولای شي له نړیوالو سازمانونو، بازارونو، مالي بنسټونو او

ډیپلوماتیکو حلقو سره رسمي، قانوني او اساسي تعامل ولري. د افغانستان لپاره د روسیې رسمیت پېژندنه له همدې پلوه خورا مهمه ده، ځکه چې دا هېواد د ملګرو ملتونو د امنیت شورا دایمي غړی، د نړیوال سیاست اغېزناک لوبغاړی او د منځنۍ آسیا، اروپا او آسیا ترمنځ ستراتیژیک پل دی.
د دې رسمیت یوه بله مهمه بنه، د اقتصادي اړیکو پراختیا ده. افغانستان چې پر وارداتو متکي اقتصاد لري، اوس د خپل اقتصاد د ثبات، تولید او صادراتو لپاره د باوري شریکانو په لټه کې دی. روسیه نه یوازې د افغانستان لپاره د انرژۍ، غلو، انجنیري تجهیزاتو او تخنیکي مرستو یوه لویه سرچینه کېدای شي، بلکې د افغانستان د تولیداتو، لکه وچې مېوې، غالیو، قیمتي ډبرو او معدني موادو لپاره یو لوی بازار هم جوړېدلی شي. دغه راز، د ټرانزیټ، اورګاډي کرښو، سړکونو او هوایي دهلیزونو له لارې هم د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي فضا پراخېدلی شي. په دې ترڅ کې د افغان سفارت پر ودانۍ د اسلامي امارت د بیرغ پورته کېدل، یوه بله عملي کړنه وه، چې د رسمیت حقیقي مانا پکې نغښتې وه. دا یو سمبولیک حرکت نه، بلکې د حاکمیت د مشروعیت عیني بڼه وه. له دې سره دا پیغام هم نغښتی و، چې روسیه غواړي له افغانستان سره د یو برابر، قانوني او متقابل درناوي پر بنسټ اړیکې وساتي. د رسمیت دا عمل د افغانستان داخلي ثبات ته هم نوې روحیه ورکوي. هغه نظام چې نړیوال مشروعیت ترلاسه کړي، په داخلي توګه هم د خلکو باور لا ترلاسه کوي، ادارو ته اعتبار ور ښښي، د پانګوالو اعتماد زیاتوي او د سیاسي نارامیو مخنیوی کوي. البته، دا واقعیت هم باید هېر نه شي، چې رسمیت یوازې د بل هېواد

له خوا د منلو نوم نه دی؛ بلکې دا د یو مسئول، متعادل، شفاف او متقابل تعامل غوښتنه هم کوي. اسلامي امارت ته پکار ده، چې له دې ګامه وروسته، د نورو هېوادونو لپاره هم لاغښتلي د باور فضا جوړه کړي، تعلیم، اقتصادي پراختیا او د ټولنیز ثبات په برخو کې مثبت اقدامات وکړي، ترڅو د رسمیت دا لړۍ نوره هم پراخه شي. د روسیې دا ګام، د سیاسي انزوا د ماتېدو پیل ګڼل کېږي. دا د یو داسې ملت لپاره چې اوږده موده له نړیوالو کړیو لرې وساتل شو، یو امید بښونکی حرکت دی. دا پیغام هم لري، چې افغانستان ته بیا هم د نړۍ دروازې پرانیستل کېدای شي، خو شرط دا دی چې له عزت، ثبات، تعادل او ملي ګټو سره سم به تعامل روان وي. دا تاریخي شېبه باید د فرصت په توګه وکارول شي، نه د احساساتي خوشحالۍ په توګه. له دې وروسته د اسلامي امارت مسئولیت دوه چنده شوی دی، ځکه چې نړیوال رسمیت یوازې د پېژندلو نوم نه دی، بلکې د مسئولیت، تطابق، حساب ورکونې او قانونمند تعامل مانا لري. که افغانستان وکولای شي له روسیې سره دا اړیکې ژورې، پراخې او مؤثرې وساتي، نو دا به د نورو هېوادونو لپاره هم یو الهام وي، چې د افغانستان واقعي وضعیت له نږدې وګوري او د تعامل پر لور ګام واخلي.
په پایله کې، دا باید ووایو چې د روسیې له خوا د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه یو تصادفي، احساسي یا محدود عمل نه دی، بلکې دا د نړیوال سیاست د یو ستر قوت د ژورې ارزونې، ستراتیژیک تفکر او متقابل درناوي بنسټیزه پایله ده دا پرېکړه یوه دروازه ده، چې پرانیستل شوې، خو د خلاصې پاتې کېدو تضمین یې یوازې د افغانستان د خلکو، رهبرۍ او حکومت په لاس کې دی.

د ملي حاکمیت غبرګ ته د ړانده تعصب غبرګون

رحمت‌الله فیضان

په دې وروستیو کې د بهرنیو چارو پخواني وزیر، ډاکټر رنګین دادفر سپنتا، د روسیې له‌خوا د افغانستان اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې پرېکړه «د افسوس وړ» بللې. دا څرګندونې نه یوازې له واقعي حقایقو لرې دي، بلکې د هغه د تېرو سیاسي دریځونو، ناکامو کړنو او د پردیپال سیاست محصول بلل کېږي.
ښاغلی سپنتا!
ایا دا د افسوس خبره نه وه، چې تاسې خپل هېواد نړیوال استکبار ته د اشغال لپاره وسپاره؟
ایا دا د افسوس خبره نه وه، چې تاسې د پردیو د ستراتېژیکو موخو لپاره د خپل ملت وینې و بهولې؟
ایا دا د افسوس خبره نه وه، چې ستاسې تر رهبرۍ لاندې اداري د فساد، رشوت، غلا او بې‌عدالتیو پر مراکزو بدلې شوې وې؟
ایا دا د افسوس خبره نه وه، چې قومي، ژبنیو، مذهبي او سمتي تفرقو ته مو لمن ووهله او ملت مو ټوټې ټوټې کړ؟
ایا دا د افسوس خبره نه وه، چې مافیايي کړۍ مو رامنځته کړې او د هېواد شتمني مو پرې لوټ کړه؟
ایا دا د افسوس خبره نه وه، چې علماء، محصلین، متعلمین، پوهان، ښځې، ماشومان او نور په زرګونو بې ګناه انسانان مو زنداني، شکنجه، او وژل؟
ایا دا د افسوس خبره نه وه، چې د ولس په رایو مو ملنډې وهلې، جعلي ټاکنې مو تر سره کولې او د ملت اراده مو تر پښو لاندې کړه؟
که رښتیا ووایو، د افسوس له ټولو ستر مورد دا و، چې تاسې د ملت پر وینو سیاست کاوه، د ملي حاکمیت ضد دریځونه مو غوره کړل او د ملت د چیغو په وړاندې مو غوږونه کاڼه وو.
نن، بحمدلله، افغانستان یو ځل بیا د خپلواکۍ، امنیت او اسلامي هویت څښتن شوی. ارضي تمامیت تضمین شوی، خلک له جګړو، بمباریو، هوایي بریدونو شپنیو چاپو او وحشت څخه خلاص شوي او پر خپل نظام باور لري.
دا واقعي تحولونه ستاسې او ستاسو په څېر هغو کسانو ته د زغم وړ نه دي، چې د پردیو په خواخوږۍ کې یې خپلې سیاسي ریښې غځولې دي.
تاسې، پر ځای د دې چې د ملت د اوسني عزت او ثبات ستاینه وکړئ، لا هم د خپلې ناکامې، فاسدې او له شرمه ډکې ماضي دفاع کوئ. د افغانستان ولس ستاسو پر سیاست، کړنو، دروغو او خدمتکارۍ قضاوت کړی او نور به هېڅکله د داسې غلامانه فکرونو پر وړاندې چوپ پاتې نه شي.
اسلامي امارت، له ملت سره په یووالي، د حق پر بنسټ او د اصولو پر مدار، له نړیوالو سره د متقابل درناوي، روښتیا او مثبت تعامل سیاست تعقیبوي. د روسیې رسمیت پېژندنه د افغان ملت د اوږدو قربانیو، ملي ثبات او د مشروع حاکمیت د تأمین یوه نړیواله نښه ده، نه د کوم شخص، ګوند یا ائتلاف د تأیید یا مخالفت تابع.
«زمستان می‌گذرد و روسیاهی به زغال می‌ماند» د پردیو په ډاډ تغذیه شوې سیاسي څېرې به د تاریخ له حافظې څخه داسې محوه شي لکه د افغانستان له جغرافیې څخه چې محوه شوې.

شیوع امراض در فصل گرما

استوار

طوری که همه می‌دانیم، شیوع امراض در فصل تابستان که گرم ترین فصل سال است نسبت به دیگر فصل ها بیشتر می‌شود.
اینکه چه راهکارهایی می‌تواند از مبتلا نشدن به امراض ما را کمک کند؟ روی آن می‌پردازیم .
در هوای گرم میکروب ها رشد بیشتر داشته و مواد خوراکی را آلوده می‌سازد. به غرض جلوگیری از آلوده گی مواد خوراکی بهتر است اولاً از غذاهای باسی وشب مانده استفاده نکنیم و اگر به اساس مشکلات به چنین معضل برخوردیم مواد خوراکی باقی مانده را در یک جای سرد نگهداری کنیم تا آلوده نگردد.
همچنین صرف کردن آب های غیر صحی سبب بروز امراض؛ چون اسهالات و قی در انسان می‌شود که فوق العاده خطرناک و کشنده هم است . در صورتی که امکانات نگهداری و دسترسی به آب صحی را نداشته باشیم، بهتر است آب قبل از نوشیدن وصرف کردن جوش داده شود، بعد استفاده گردد.
در قدم دوم پاکی و طهارت وجود انسان است که باید لباس و تن آن پاک باشد. در ضمن پوشیدن لباس است که در هوای گرم چگونه لباس بپوشیم و به زیر آفتاب سوزان قرار نگیریم. اگر به اساس نیاز و مشکلات کاری در زیر آفتاب قرار می‌گیریم بهتر است در صورت ممکن سر و صورت خود را بپوشانیم تا شدت تابش نور آفتاب مارا مریض نسازد .شایان ذکر است که اطفال و نو باوه گان و اشخاص ضعیف سالمند بیشتر از دیگران آسیب پذیر اند که والدین وخانواده ها باید در زمینه توجه بیشتر داشته باشند.
مورد دیگر اینکه در صورت مصاب شدن فردی به امراض موسمی، باید بی تفاوت نبوده و پس از کمک های اولیه هر چه زود تر مریض را به نزد داکتر و یا به یکی از نزدیکترین کلینیک ها و شفاخانه ها انتقال داده تا تداوی گردد. قبل از آنکه وضعیت مریض به وخامت و حالت کوما برسد.
تعلل و بی تفاوتی در قسمت امراض موسمی عواقب ناخوشایندی در قبال دارد که باید در زمینه جدی عمل شود .خانواده ها باید همیشه وقایه را در نظر داشته باشند. قبل از مبتلاء شدن اطفال شان و یکی از اعضای خانواده شان از قبل در قسمت لباس، غذا و آب از دقت کامل کار گیرند و آنچه که مهمتر از همه است، ادویه جلوگیری از امراض موسمی فصل گرما را باید در خانه داشته باشند که تا زمان رساندن مریض به شفاخانه ویا داکتر بتوانند از ادویه دست داشته استفاده کنند .
برای اطفال آب صحی داده شود تا در راه رفتن به مکتب و مدرسه از آب‌های غیر صحی استفاده نکنند.
در ضمن برای همه تفهیم شود که از خوراکه های روی بازار و کراچی های دستفروشان نخورند که امکان زیاد مریض شدن را در قبال دارد.
هوتل ها وکراچی های فروش مواد غذایی در قسمت نظافت و پاکی غذا ها بایدبه هموطنان جداً توجه داشته تا با حیات و زندگی هموطنان خویش بازی نکرده باشند.

اعلان مفقودی

یک جلد ترجمه نکاح خط شرعی دارای نمبر ۱۸۵/۱۸۵ مورخ ۱۴۴۴/۶/۱۹ به اسم سیدالهام رحمانی ولد سید میرجان محترم ریحانه احمدی بنت حسن خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۲۲۰۱

اعلان مفقودی

یک قطعه ترجمه تذکره تابعیت به اسم سید الهام رحمانی ولد سید میرجهان مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۲۲۰۲

اعلان مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم نوید مالکی ولد محمد امیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط است ۷۸۲

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه قباله شرعی نمبر ۱۷۵/۱۷ مورخ ۱۳۸۳/۳/۲۵ مرتبه محکمه ناحیه هفتم به اسم جلیل فرزند عبد الفتاح ولدیت فضل احمد جایداد واقع ناحیه هفتم شهر کابل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۲

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسی تولد کارت به اسم ملیحه حیدری بنت شیر الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۵

اعلان مفقودی

یک جلد پاستپورت سیاحتی به اسم عبدالحمید عیدی زاده ولد عبدالبشیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۱۳۳۲۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله غیوری فرزند حضرت الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۸۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مطیع الله وزیری فرزند حاجی وزیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۸۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شیر باز محمدی فرزند عطا خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۸۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم وزیر شاه خان امیری فرزند حاجی جیلانی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۸۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عادله بنت سید آغا حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۰۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حمید الله فرزند حاجی یاسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۴۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غلام رسول نظری فرزند ضامن علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۴۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نقیب الله صاحب زاده فرزند اسد الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۴۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید علی رضا موسوی فرزند سید میر عبدالله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۴۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد شاه نجیب زاده فرزند محمد شفا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۴۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سپین زر ناصری فرزند حاجی ناصر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۴۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حضرت الله عابد فرزند گلاب نور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۳۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد احمدی فرزند ولی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۳۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بی بی جان قدیری فرزند گل محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۲۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد الله حسینی فرزند عوض مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۵۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ثناولی ملنگ یار فرزند یار محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۳۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد ضیاء رحیمی فرزند عبدالرحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۲۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نور الله نوری فرزند محمد الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۲۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نصیر قدیری فرزند حاجی محمد قدیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۲۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد الله فرزند امین الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۲۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید ناصر سید زاده فرزند سید عزیز الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۲۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بسم الله محمدی فرزند عثمان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۲۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فرح ناز نعیمی بنت محمد اکبر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۱۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سمیه قادری فرزند نصر الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۱۹

اطلاعیه تصمیم
اعطای قرارداد

بدین وسیله به تاسی ازفقره)۲(ماده چهل سوم قانون تدارکات و امریه نمبر(۱۴۰۸) مورخ۱۴۴۷/۱/۵ مقام وزارت دفاع ملی به اطلاع عموم رسانیده میشود اینکه ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی در نظردارد قرارداد پروژه تهیه مواد و اجرای احجام پروسه کاری امورات ساختمانی , شبکه برق و شبکه آبرسانی ترمیم مسجد شریف قلعه جنگی مربوط قوماندانی قول اردوی ۲۰۹ الفتح از بابت سال مالی ۱۴۰۴دارای نمبر تشخیصیه (وزارت دفاع ملی-۱۴۰۴-امور ساختمانی-۰۱۵۵-۲۲۴۱۶) را با شرکت ساختمانی بلخ تخار زرغون دارای جواز نمبر(۹۴۶۵۵) به قیمت مجموعی مبلغ(۱،۲۷۰،۴۸۰) یک میلیون و دوصدو هفتاد هزارو چهار صدو هشتاد افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت(۷) روز تقویمی طورکتبی توام با دلایل آن به مدیریت تدارکات امورساختمانی ریاست تدارکات واقع خواجه بغراء مقیم گارد سابقه بلاک (۵) منزل (۲) اتاق نمبر(۲۱۳) ناحیه پانزده شهرکابل وفق احکام ماده پنجاه {۵۰} قانون تدارکات ارائه نمائید.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

افغان اعلانات

اطلاعیه تصمیم
اعطای قرار داد

بدین وسیله به تاسی ازفقره)۲(ماده چهل سوم قانون تدارکات و امریه نمبر(۷) مورخ۱۴۴۷/۱/۵ مقام وزارت دفاع ملی به اطلاع عموم رسانیده میشود اینکه ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی در نظردارد قرارداد پروژه تهیه مواد و اجرای احجام پروسه کاری امورات (ساختمانی, شبکه برق و شبکه آبرسانی بشمول فاضلاب داخلی و خارجی) اعمار تعمیر سه اطاقه برای بلوک اول , تولی اول کندک مکانیزه لوای دوم قول اردوی ۳۱۳ مرکزی واقع قلعه مراد بیک دروازه دخولی کابل از بابت سال مالی ۱۴۰۴دارای نمبر تشخیصیه (وزارت دفاع ملی-۱۴۰۴-امور ساختمانی-۰۱۴۶-۲۵۱۰۵) را با شرکت ساختمانی خان اسکای دارای جواز نمبر(۹۷۲۱۵) به قیمت مجموعی مبلغ(۱،۲۸۸،۴۶۱.۱۲) یک میلیون و دوصدو هشتادو هشت هزارو چهارصدو شصت و یک اعشاریه دوازده افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت(۷) روز تقویمی طورکتبی توام با دلایل آن به مدیریت تدارکات امورساختمانی ریاست تدارکات واقع خواجه بغراء مقیم گارد سابقه بلاک (۵) منزل (۲) اتاق نمبر(۲۱۳) ناحیه پانزده شهرکابل وفق احکام ماده پنجاه {۵۰} قانون تدارکات ارائه نمائید.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه لیلام

موضوع: نشر اعلان لیلامی (۲۲۱) قلم جنس داغمه وزارت !

وزارت معادن و پترولیم در نظر دارد (۲۲۱) قلم جنس داغمه خویش را به تاریخ ۱٤۰٤/۰٤/۲٤ به لیلام بگذارد، بناً اشخاص، موسسات و شرکت های که خواهش خرید آنرا داشته باشند در روز معینه به ریاست اداری و خدمات این وزارت واقع چهاراهی مکروریان جوار مسلخ تشریف بیاورند و در زمینه ۱۵ فیصد پول تضمین قبلاً اخذ میگردد.

موضوع: اعلان
دعوت به داوطلبی

وزارت فواید عامه، از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی) ساختمان پل جدید واقع در مسیر سرک قریه زرگران - گردیز ولایت پکتیا (اشتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه و اسناد تخنیکی را از آمریت تدارکات امور ساختمانی این وزارت بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت (۰۰ :۱۰ قبل از ظهر) مؤرخ (۰٤ / ۰۵/۱٤۰٤هـ.ش) به ریاست تدارکات، وزارت فواید عامه، واقع ملالی وات، سرک وزارت داخله اسبق، جوار اداره ملی احصائیه و معلومات ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد. تضمین آفر بصورت گرنتی بانک مبلغ (۵۰۰,۰۰۰ پنج صد هزار افغانی) بوده و جلسه آفرگشائی به تاریخ (۰٤ / ۰۵ /۱٤۰٤هـ.ش) ساعت (۰۰ :۱۰ قبل از ظهردر ریاست تدارکات تعمیر وزارت فواید عامه تدویر میگردد.

اطلاعیه تغیر مکان
رهنمای معاملات

دفتر رهنمای معاملات عبدالروف رحیمی دارنده جواز شماره (۵۲۴۸) به اسم محترم عبدالروف فرزند عبدالشکور ولدیت عبدالغفور واقع سرک دوم تایمنی ناحیه ۴ موقعیت دارد و میخواهد به ساحه سرک اول پروژه تایمنی ناحیه ۴ شاروالی کابل نقل مکان نماید . بناء مراتب به آگاهی شما رسانیده شد.۱۱۸

اطلاعیه پشتنی بانک

پشتنی بانک در نظر دارد به تعداد ۱۸۴ قلم اجناس داغمه و یک عراده موتر کرولا سمند ایرانی خویش را از طریق داوطلبی و مزایده به فروش برساند . شرکت های و یا اشخاص که خواهان خریداری اجناس فوق الذکر را داشته باشند درخواست های خویش را بعد از نشر اعلان الی تاریخ ۱۴۰۴/۴/۲۵ به مدیریت عمومی خدمات پشتنی بانک واقع پل باغ عمومی سپرده شرطنامه را مطالعه نموده خود و یا نماینده با صلاحیت شان در مجلس داوطلبی تشریف بیاورند تضمین پانزده فیصد نقدا اخذ میگردد.۱۱۴

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۵۵۶۷۶-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای حمید الله فرزند غلام فاروق بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۲۶

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۱۱۷۶۴-۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد عمران فرزند محمد صابر بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۰۴

اطلاعیه تصمیم
اعطای قرارداد

بدینوسیله به تآسی از فقره دوم ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث در نظر دارد، {پروژه اعمار کانال زراعتی و پاککاری کاریز در قریه خوکی ارغندی ولسوالی پغمان ولایت کابل} خویش را تحت شماره داوطلبی

ANDMA/NCB/AFG/680175/1404/W-11

با شرکت ساختمانی و سرکسازی سید عمر سالداد دارنده جواز نمبر (۳۷۱۷۵) آدرس دهن باغ چهل ستون، مرکز کابل، کابل به قیمت مجموعی مبلغ (۵،۳۳٦،۱۰۷) پنج میلیون و سه صد و سی و شش هزار و یکصد و هفت افغانی اعطاء نماید اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند؛ می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به آمریت تدارکات اداره ملی آمادگی مبارزه به حوادث واقع کوچه شفاخانه ملالی کابل-افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

موضوع: در مورد
اعلان داوطلبی زمین
مهمانخانه کوچیها وزارت امور سرحدات،اقوام و قبایل واقع چمن حضوری کابل ناحیه هشتم

شماره دعوت به داوطلبی:
(MOBTA/1404/ L.001).

وزارت امورسرحدات، اقوام و قبایل از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی تدارک زمین مهمانخانه کوچیها واقع چمن حضوری کابل ناحیه هشتم اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه را در بدل (۳۰۰۰) افغانی از آمریت تدارکات اداره مربوطه بدست آورده ،آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طورسربسته از تاریخ نشراعلان الی روز (دوشنبه) مورخ ٦/ ٥/ ١٤٠٤ راس ساعت (٩:٣٠) (قبل ازظهر) که ضرب الاجل تسلیمی آفرها می باشد. درصندوق آفرها در ریاست تدارکات وزارت امورسرحدات، اقوام و قبایل واقع سرک میدان هوائی جوارستره محکمه انداخته و در جلسه آفرگشائی راس ساعت (۱۰:۰۰) (قبل با ظهر) حاضر گردند. آفرهای نا وقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر به صورت پول نقد مبلغ (۱۰۳،۱٦۰) یک صدو سه هزار و یک صدو شصت افغانی بوده و جلسه آفرگشائی به روز (دوشنبه) مورخ ٦/ ٥ /١٤٠٤ در ریاست تدارکات تدویر میگردد.

موضوع: در مورد اعلان
تصمیم اعطای قرارداد؛
تدارک دو نوع تیل دیزل و پطرول مورد ضرورت وزارت سال مالی ۱٤۰٤.

شماره دعوت به داوطلبی:
(MOBTA/1404/NCB/OPT/G.001).

بدین وسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات، به اطلاع عموم رسانیده میشود؛ وزارت امور سرحدات، اقوام و قبائیل در نظر دارد پروژه تهیه و تدارک؛ دو نوع تیل دیزل و پطرول خویش رابرای سال مالی ۱٤۰٤ به شرکت محترم دولتی نفت و گاز افغانستان به قیمت مجموعی مبلغ (۱۰،٦۰۲،۰۰۰) ده میلیون شش صدو دو هزار افغانی اعطا نماید.
اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات-وزارت امور سرحدات، اقوام و قبائیل، واقع ناحیه نهم-جوار ستره محکمه وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

موضوع: اعلان داوطلبی

دعوت برای داوطلبی باز ملی:پروژه ترمیم تعمیر ریاست،کانتینر ها، مسجد شریف ریاست امتحانات معیاری و ارزیابی نتایج تعلیمی،مجمع آموزشی ابن سینا،دیوار احاطه و پیاده روهای ریاست شهادتنامه،ترمیم چهار تشناب دفتر ریاست نظارت و ارزیابی مطابق بل احجام کاری واقع ناحیه سوم شهر کابل مربوطه معینیت محترم تضمین کیفیت وزارت معارف بابت سال مالی

1404MOE/W-010//NCB

وزارت معارف از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه ترمیم تعمیر ریاست،کانتینر ها، مسجد شریف ریاست امتحانات معیاری و ارزیابی نتایج تعلیمی،مجمع آموزشی ابن سینا،دیوار احاطه و پیاده روهای ریاست شهادتنامه،ترمیم چهار تشناب دفتر ریاست نظارت و ارزیابی مطابق بل احجام کاری واقع ناحیه سوم شهر کابل مربوطه معینیت محترم تضمین کیفیت بابت سال مالی ١٤٠٤وزارت معارف اشتراک نموده و شرطنامه مربوطه را در حافظه یا فلش دسک از ریاست تدارکات وزارت معارف ویا سایت اداره تدارکات ملی
https://tenders.ageops.af به دست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت۰۲:۰۰ بعد ازظهر سه شنبه ۷ اسد ١٤٠٤, به ریاست تدارکات وزارت معارف واقع ده افغانان، غازی محمد جان خان وات ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده وانترنیتی قابل قبول نمیباشد.
تضمین آفر بصورت تضمین بانکی و یا پول نقد به مبلغ ۳۹۰۰۰ سی و نه هزار افغانی بوده جلسه آفرگشایی به روز سه شنبه ۷ اسد ١٤٠٤, ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر در صالون افرگشائی ریاست تدارکات وزارت معارف تدویر میگردد.

موضوع: اعلان داوطلبی

دعوت برای داوطلبی باز ملی:پروژه ترمیم تعمیر اداری، تعمیر چهار منزله لیله، تشناب های دارالعلوم عربی،ترمیم آهن پوش دارالحفاظ مرکزی کابل،ازپیپ های تشناب ها مطابق بل احجام کاری بابت سال مالی١٤٠٤

MOE/W-005//NCB

وزارت معارف از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه ترمیم تعمیر اداری، تعمیر چهار منزله لیله، تشناب های دارالعلوم عربی،ترمیم آهن پوش دارالحفاظ مرکزی کابل،ازپیپ های تشناب ها مطابق بل احجام کاری بابت سال مالی ١٤٠٤وزارت معارف اشتراک نموده و شرطنامه مربوطه را در حافظه یا فلش دسک از ریاست تدارکات وزارت معارف ویا سایت اداره تدارکات ملی https://tenders. ageops.af به دست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت۱۰:۰۰قبل ازظهر روز چهارشنبه۸ اسد ١٤٠٤, به ریاست تدارکات وزارت معارف واقع ده افغانان، غازی محمد جان خان وات ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده وانترنیتی قابل قبول نمیباشد. تضمین آفر بصورت تضمین بانکی و یا پول نقد به مبلغ ۸٦۰۰۰ هشتاد و شش هزار افغانی بوده جلسه آفرگشایی به روز چهارشنبه ۸ اسد ١٤٠٤, ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در صالون افرگشائی ریاست تدارکات وزارت معارف تدویر میگردد

موضوع: اعلان داوطلبی

دعوت برای داوطلبی باز ملی:پروژه تهیه ونصب سیستم برق سولر ٣٦ کیلو وات در دو پکیج برای مصارف شبانه واتر پمپ، روشنای مسجد، پروجکتور و گاردتاور های وزارت معارف مطابق بل احجام کاری بابت سال مالی ١٤٠٤

MOE/W-006//NCB

وزارت معارف از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه تهیه ونصب سیستم برق سولر ٣٦ کیلو وات در دو پکیج برای مصارف شبانه واتر پمپ، روشنای مسجد، پروجکتور و گاردتاور های وزارت معارف مطابق بل احجام کاری بابت سال مالی١٤٠٤وزارت معارف اشتراک نموده و شرطنامه مربوطه را در حافظه یا فلش دسک از ریاست تدارکات وزارت معارف ویا سایت اداره تدارکات ملی
https://tenders.ageops.af به دست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت۱۰:۰۰ قبل ازظهر سه شنبه ۷ اسد ١٤٠٤, به ریاست تدارکات وزارت معارف واقع ده افغانان، غازی محمد جان خان وات ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده وانترنیتی قابل قبول نمیباشد.
تضمین آفر بصورت تضمین بانکی و یا پول نقد به مبلغ ۱۰۳۰۰۰ یک صدو سه هزار افغانی بوده جلسه آفرگشایی به سه شنبه ۷ اسد ١٤٠٤, ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در صالون افرگشائی ریاست تدارکات وزارت معارف تدویر میگردد.

اروپا ته د باکو بندر ...

د رامنځته کېدو په موخه موجود امکانات او ټرانسپورټي لارې و ارزوي او د افغانستان صادراتو ته اسانتیاوې رامنځته کړي.
د یادونې وړ ده، چې د باکو نړیوال بحري بندر اوس په کلنۍ ډول د ۱۵ میلیونو ټنو توکو د انتقال ظرفیت لري،چې په راتلونکي کې به دا کچه ۲۵ میلیونو ټنو توکو ته ورسېږي.

افتتاح پروژه حفظ و ...

مختلف کشور می باشند.
قابل یادآوری است که این پروژه؛ بلند بردن ارتفاع بند به اندازه دو و نیم متر، باز سازی و تحکیم کاری ساحه تحت تهدید بند، اعمار پاور هاوس، ترمیم پایپ های خروجی آب، ترمیم دروازه ها، ترمیم پرچاوه ها، نصب سانسور ها در بالای بند به منظور چک و کنترول آن، و نصب گروپ های سولری بالای محور بند و ساخت تعمیر محافظین را شامل می باشد که در مدت یک سال تطبیق خواهد شد. با تطبیق این پروژه ارتفاع بند از ۳۵ متر به ۳۷.۵ متر و ظرفیت ذخیره آن از ۹ میلیون متر مکعب آب به ۱۳ میلیون متر مکعب آب افزایش خواهد یافت که مجموعاً حدود ۱۰ هزار هکتار زمین زراعتی را تحت آبیاری قرار می دهد.

۱۵ولایتونو کې ...

سوېل ختیځو، لوېدیځو او مرکزي ولایتونو کې د تېزو بادونو، خاورو او دوړو د پېښېدو اټکل هم شته، چې د سرعت کچه یې په بېلابېلو سیمو کې له ۵۰ څخه تر ۹۵ کیلومتره په ساعت کې اټکل کېږي. د یادونې وړ ده، چې ورمه اوونۍ هم د هېواد څو ولایتونو کې د تېز اورښت له امله سېلابونه راوتلي وو، چې د مالي زیان ترڅنګ یې مرګ ژوبله هم لرله.

کندز کې سلګونه ...

د سندونو او مدارکو او املاکي دفاترو په دقیقې بررسۍ او له اړوندو ادارو څخه د معلوماتو په ترلاسه کولو سره، پرېکړه وکړه، چې ټوله ځمکه د امارتي دعوا لاندې ده او د ځمکو له غصبه د مخنیوي کمېسیون ته دې ورکړل شي، ترڅو د ځمکو په بانک کې ثبت او ګټه ورڅخه واخیستل شي.
د امارتي ځمکو له غصبه مخنیوی او د غصب شویو ځمکو استرداد د افغانستان اسلامي امارت له اساسي موخو څخه ده، چې د ځمکو له غصبه د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون په همدې منظور رامنځته شوی دی.
دا کمېسیون مسئولیت لري ترڅو سلطاني، عامه مرعی او وقفي غصب شوې ځمکې له غاصبینو او زورواکو او غیر شرعي ذوالید څخه استرداد کړي او دا بهیر د افغانستان په ټولو ولایتونو کې په چټکۍ سره دوام لري.
د ځمکو له غصبه د مخنیوي کمېسیون د امارتي ځمکو د بررسۍ لپاره د هېواد په څلورو زونونو کې څلور اختصاصي محکمې او په هر ولایت کې د غصب شویو ځمکو د تشخیص او تثبیت یو تخنیکي هیئت هم لري،چې دغو موخو ته د رسېدو لپاره کار کوي.

د غازي عبدالله اڅکزي ...

د احمد شاه بابا کور او یو شمېر ولایتونو کې د لسګونو تاریخي آبدو د رغونې چارې بشپړې شوې. همدا راز غزني کې د باباجي تاریخي مسجد، بامیانو کې د شش‌پُل تاریخي کاروان سرای، د کابل بالاحصار کې تحقیقاتي او رغنیز کارونه او د لسګونو نورو تاریخي آبدو د رغونې چارې په بېلابېلو ولایتونو کې تر کار لاندې دي.

پنجشېر کې یو تن ...

ولایتونو کې د اوړي په موسم کې د لامبو پرمهال وخت ناوخته ورته خونړۍ پېښې رامنځته کېږي. په ورته وخت کې د اسلامي امارت مسئولینو بار بار له هېوادوالو غوښتي، چې د ګرمۍ په موسم کې په لویو سیندونو کې له لامبو وهلو ډډه وکړي او خپل ځان په خپله وژغوري. د ویلو وړ ده چې روان کال دا څوومه پېښه ده، چې په بېلابېلو ولایتونو کې ثبتېږي.

قزاقستان د تورغونډۍ ...

راتلونکې کې د قزاقستان د بهرنیو چارو وزیر کابل ته سفر کوي. اولژانس بکتنوف زیاته کړې، چې قزاقستان به په افغانستان کې ډېر ژر د تور غونډۍ-هرات وسپني پټلۍ پروژه د ۵۰۰ میلیونو ډالرو په پانګونې سره پیل کړي. همدارنګه د قزاقستان لومړي وزیر ویلي: هېواد یې چمتو دی، چې له افغانستانه مېوې واردې کړي او ترڅنګ یې د قزاقستان له لارې د افغانستان د صادراتو په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړي.

اسلامي امارت د ټولو ...

مولوي عبدالکبیر د کابل د جهادي مدرسې د مهتمم او استادانو د هڅو د ستاینې ترڅنګ ویلي، چې اسلامي امارت د مدرسو په ګډون د ټولو ښوونیزو او علمي ادارو د ستونزو حل او پرمختګ ته ژمن دی. د کډوالو چارو وزیر د مدرسو مسئولینو او استادانو ته د اسانتیاوو پر چمتو کولو خبرې وکړې او زیاته یې کړه، چې اسلامي امارت خپلو امکاناتو ته په کتو د علمای کرامو وړاندیزونو ته رسېدنه کوي.
د غونډې په پای کې د جهادي مدرسو د لاښه فعالیت او لاسته راوړنو په موخه د غونډې ګډونوالو خپلې تجربې او نظرونه سره شریک کړل.

بدخشان کې کرنیز ...

څو وکولای شي، د هېواد یوه برخه اباده کړي. بدخشان کې له دې وړاندې هم د سیمې د اوسېدونکو له لوري د دوی په شخصي لګښت روغتیایي مرکزونه، لارې او سړکونه رغول شوي دي.

هلمند کې لسګونه ...

۱۴ میله کلاشینکوفونه، درې میله ثقیلان، درې میله M4، ۱۲ میله بلازن، پنځه میله کمرشکن یو میل کربین، یو میل پیشه، یو میل ملېشه یې ټوپک، یو میل خفیف او ۳ زره فیره د سپکو او درنو وسلو مرمۍ شاملې دي. د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، نیول شوي کسان له لومړنیو څېړنو وروسته عدلي او قضایي ارګانونو ته سپارل شوي دي.

امریکا کې سېلابونو ...

له ۲۰ ډېر ماشومان لادرکه شوي او د ژغورنې عملیات پیل شوي دي. د راپورونو له مخې ښایي د دې طوفاني اورښت له امله د مړینې شمېر لوړ شي. که څه هم د امریکا په بېلابېلو ایالتونو کې له دې مخکې هم سېلابونو لسګونو تنو ته مرګ‌ژوبله اړولې وه، خو دا شدید سېلاب خونړی بلل شوی او د قربانیانو له کورنیو سره خواخوږي ښودل شوې ده. د ویلو وړ ده،چې روان کال د نړۍ په ډېرو ولایتونو کې دا ډول ناڅاپي طوفاني اورښت د سلګونو تنو ژوند اخیستی او پراخ مالي زیانونه یې اړولي. بله خوا په نړۍ کې دا ډول اورښتونه د اقلیمي بدلون ګواښوونکي پایلې بلل کېږي، چې تر ډېره د منځنۍ اسیا هېوادونه هم ترې خوندي نه دي.

کابل ښار کې د نفتي ...

چې د تېرو اوو ورځو په نسبت د یو کیلوګرام مایع ګاز بیه له ۵۸ څخه ۵۰ افغانیو ته ټیټه شوې؛ ځکه چې له ایرانه د ګاز واردات بېرته پیل شوي دي.

کونړ کې یو ماشوم ...

راپورونه ورکړي او ژغورل شوي ماشومان یې خپلو کورنیو ته سپارلي دي.بله خوا یو شمېر هېوادوالو بار بار له اسلامي امارته غوښتي، چې د انسان‌تښتوونکو پر وړاندې خپل اقدامات زیات کړي، ځکه په وینا یې ډېر تښتول‌شوي ماشومان د بېوزلو کورنیو غړي وي او تښتوونکو ته د ماشوم پر سر د پیسو د ورکړې توان نه لري.

Hewad Daily

یکشنبه د محرم الحرام ۱۰ مه ۱۴۴۷ق کال | د چنګاښ ۱۵ مه ۱۴۰۴ ل کال | د 2025م کال د جولای ۶ مه

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
داړیکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲۶۳۴۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

قزاقستان د تورغونډۍ-هرات وسپني پټلۍ پروژه کې پانګونه کوي

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند اذربایجان کې د ایکو سرمشریزې په څنډه کې د قزاقستان له لومړي وزیر او لژانس بکتنوف سره وکتل.

د ریاستالوزراء اقتصادي معاونیت ویلي: د دې لیدنې پرمهال د افغانستان او قزاقستان ترمنځ پر سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو موضوعاتو خبرې وشوې.

د یاد معاونیت پر وینا، په دې کتنه کې د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال قزاقستان د افغانستان لپاره یو مهم او د سیمې په کچه د اعتبار وړ شریک بللی او د یاد هېواد له لوري د افغانستان لپاره د ځانګړې استازي ټاکل یې یو مهم ګام یاد کړی.

یاد معاونیت زیاته کړې، چې ښاغلي برادر اخوند په نړیوالو فورمونو کې د اسلامي امارت د ملاتړ لپاره له قزاقستان څخه د مننې په ترڅ کې ویلي، چې افغانستان د دې هېواد لپاره منځنۍ ختیځ او سویلي آسیا ته یوه مهمه ټرانزیټي لاره ده.

دغه راز ملا عبدالغني برادر اخوند افغانانو ته د وېزې د ورکړې د اسانتیاوو ترڅنګ په قزاقستاني بانکونو کې د افغانستان د بانکونو د حسابونو پر پرانیستلو ټینګار کړی.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ د پراختیا په اړه ویلي: افغانستان د وسپني پټلۍ له لارې د وارداتو او صادراتو لپاره د عملیاتي شرکت په تأسیس کار پیل کړی، چې ژر به یې قزاقستان ته ور وپېژني.

د نوموړي پر وینا، د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د نړیوال ترانسپورټ په اړه د موافقتنامې مسوده ترتیب کړې، له افغانستانه په تېریدونکو ټرانزیټي اموالو باندې د فیس کمولو په اړه هم جدي کار روان دی.

همدا راز له ایران، قزاقستان او ترکمنستان سره په صنعتي، سوداګریز او ترانسپورټي ډګر کې د همکارۍ موافقتنامه هم ترتیب شوې، چې په یادو برخو کې د قزاقستان همکاري مهمه ده. په همدې حال کې د قزاقستان لومړي وزیر ویلي: هېواد یې له افغانستان سره ښې اړیکې لري او د دې اړیکو د لا پیاوړتیا لپاره په نږدې ... ۳مخ

مولوي عبدالکبیر:
اسلامي امارت د ټولو ښوونیزو او علمي ادارو د ستونزو حل ته ژمن دی

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر مولوي عبدالکبیر د کابل د جهادي مدرسې له مهتمم، شیخ ابراهیم سعید او یو شمېر نورو علماوو سره وکتل.

په دې کتنه کې د کابل د جهادي مدرسې مهتمم د مهاجرینو چارو وزارت لا خوا له مدرسو او علماوو سره د شویو مرستو او همکاریو ستاینه وکړه. نوموړي زیاته کړې، چې د اسلامي امارت په هڅو سره د کابل د جهادي

مدرسې په ګډون د ګڼ شمېر علمي او ښوونیزو ادارو ستونزې هوارې شوې دي. همدا راز د جهادي مدرسې مهتمم د کډوالو چارو له وزیر سره د ځینو مسایلو په اړه خپل وړاندیزونه او نظرونه شریک کړل.

په دې کتنه کې علماوو ټینګار وکړ، چې د ښوونځیو علمي کچه باید لوړه شي او د ښوونځیو ترمنځ باید زیاته همکاري او همغږي رامنځته شي، ترڅو تجربې شریکې شي او کارونه ښه پرمختګ وکړي ... ۳مخ

سږکال ۱،۴ میلیونه افغانان هېواد ته راستانه شوي

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ په خپل تازه راپور کې ویلي: د روان کال له پیله تر دې دمه افغانستان ته ۱،۴ میلیونه افغانان ستانه شوي.

یادې کمېشنرۍ په خپل راپور کې ویلي: د ستنو شویو افغانانو له ډلې یې یو میلیون کسان له ایرانه اېستل شوي دي.

یاد بنسټ ویلي: د بېرته راستنو شویو کډوالو لپاره د مالي سرچینو په لټه کې دي، خو په عین حال کې یې اندېښنه ښودلې، چې د مالي محدودیتونو له امله به راټولې کړې مرستې یوازې څو اوونۍ دوام وکړي.

یو ان اچ سي آر له نړیوالې ټولنې غوښتي، چې ژر تر ژره دې د دوی د اړتیا وړ بودیجه ورته برابره کړي او دې حساس وخت کې دې له افغانانو مخ نه اړوي او د هغوی تر څنګ دې ودرېږي.

بلهخوا ایراني چارواکو ویلي: تېره ورځ تر ۳۸ زرو پورې افغانان د دوغارون تنګي له لارې هېواد ته ستانه شوي.

بدخشان کې کرنیز کانال جوړېږي

د بدخشان د خواهان ولسوالۍ اوسېدونکو د ځمکو خړوبولو لپاره د یوه کرنیز کانال د جوړولو چارې پیل کړې دي.

دغه کانال ۳۶۰۰۰ هکتاره للمي ځمکه خړوبولی شي او په یوه کال کې د دوو فصلونو لپاره د کرنیزو محصولاتو د ودې زمینه برابرولی شي. د خواهان ولسوالۍ قومي مشر رحمتالله ویلي، چې د یادې ولسوالۍ دښتو ته د اوبو برابرولو سره به په یوه کال کې دوه فصله د غنمو، وریجو او نورو مېوو حاصلات ترلاسه شي.

د نوموړي په وینا، دغه کانال لس کیلومتره اوږدوالی لري او پنځه کیلومتره به یې، د ۳۰ میلیونو افغانیو په لګښت یو قراردادي شرکت جوړ کړي او پاتې پنځه کیلومتره به یې، د سیمې د اوسېدونکو له لوري

ورغول شي. د خواهان ولسوالۍ اوسېدونکي له سرپرست حکومت او ملي او نړیوالو موسسو غواړي، چې د مالي سرچینو د برابرولو برخه کې همکاري ولري ... ۳مخ

هلمند کې لسګونه وسلې نیول شوې

د کورنیو چارو وزارت خبر ورکړی، چې هلمند کې له ترهګرۍ سره د مبارزې پولیسو، د تېرو دوو میاشتو په موده کې د عملیاتو پر مهال ۱۰۵ میله وسلې او ګڼ شمېر نظامي تجهیزات نیولي.

یاد وزارت ویلي: دغه اندازه وسلې او مهمات د یاد ولایت د مرکز لښکرګاه په ګډون په یو شمېر ولسوالیو کې نیول شوي او په تړاو یې څو تنه هم نیولي دي.

د سرچینې په خبره، نیول شویو وسلو او نظامي تجهیزاتو کې ۶۳ میله تومانچې ... ۳مخ

امریکا کې سېلابونو مرګ ژوبله اړولې

په «تګزاس» ایالت کې د وروستي طوفاني اورښت له امله ۲۴ تنه مړه او له ۲۰ ډېر نور لادرکه شوي دي.

د اسوشیتدپرس په راپور کې ویل شوي، چې دا اورښت په ناڅاپي توګه د تګزاس په «تپهای» سیمه کې پیل شوی او تر څو ساعتونو پورې یې دوام کړی دی.

چارواکو رسنیو ته ویلي، چې په دې پېښه کې ... ۳مخ

کابل ښار کې د نفتي توکو بیې را لوېدلي

په کابل ښار کې پرون د تېرو اوو ورځو په پرتله د ډیزلو او اوبلن ګاز بیې یو څه ټیټې شوې، خو د هندي بورې بیه لوړه شوې ده.

کابل ښار کې د احمدیار د تېلو ټانک یوه کارکوونکي ویلي: د تېرو اوو ورځو په څېر د یو لیټر پټرولو بیه ۶۴ افغانۍ ده.

نوموړی وایي چې د تېرو اوو ورځو په نسبت د یو لیټر ډیزلو بیه له ۶۸ څخه ۶۷ افغانیو ته راټیټه شوې؛ ځکه چې د ډیزلو بیه په نړیوالو بازارونو کې هم ټیټه شوې ده. دغهراز، د کابل ښار په دهنباغ کې یو هټیوال محمدجان امین ویلي ... ۳مخ

کونړ کې یو ماشوم له انسان تښتوونکو وژغورل شو

د ا.ا د کورنیو چارو وزارت خبر ورکړی، چې د کونړ په «چپېدرې» ولسوالۍ کې پولیسو یو ماشوم د انسانتښتوونکو له منګولو ژغورلی دی.

د یاد وزارت مسئولینو پرون په خبرپاڼه کې ویلي چې دا ماشوم څو ورځې مخکې په «چپېدرې» ولسوالۍ کې تښتول شوی او تازه یې په یاده ولسوالۍ کې د عملیاتو پرمهال له انسانتښتوونکو څخه ژغورلی دی.

د خبرپاڼې له مخې د دې پېښې په تړاو یو کس نیول شوی هم دی.

د کورنیو چارو وزارت په خبرپاڼه کې دا نه دې ویل شوي، چې دا ماشوم د کوم هدف لپاره تښتول شوی و، خو له دې مخکې د پلازمېنې کابل په ګډون په یو شمېر ولایتونو کې ډېر ماشومان د پیسو ترلاسهکولو په موخه تښتول شوي دي. د ویلو وړ ده چې اسلامي امارت له دې مخکې هم د لسګونو ماشومانو د ژغورل کېدو ... ۳مخ

کندهار کې زرګونو کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې

د کندهار ولایت د مرکز ۱۲ مه ناحیه کې د اوبو رسولو د یوې شبکې په جوړېدو سره ۷ زره کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي. د یاد ولایت د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو دولتي شرکت د فرهنګي چارو آمر انجنیر مؤمن خان داودزي باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې دغه شبکه د کندهار ښار اړوند په ۱۲ ناحیه کې د مالیې وزارت په مالي ملاتړ د ۴۲۳ میلیونو افغانیو په لګښت جوړه شوې، چې پر مټ یې د سیمې ۷ زره کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي.

د نوموړي په وینا، په دغې پروژه کې د ۳۱۰۰ متره مکعبو اوبو په ورتیا د یوې ذخیرې جوړول هم شامل دي. ورته مهال د سیمې اوسېدونکي د یادې شبکې په جوړېدو خوښي څرګندوي او وایي چې د دغې شبکې په جوړېدو سره یې د څښاک اوبو په برخه کې شته ستونزې حل شوې دي.

حماس: د خبرو نوي پړاو پیلولو ته چمتو یو

داسې مهال چې غزه کې د اسرائیلو بریدونه دوام لري، حماس د اوربند په اړه د خبرو لپاره چمتووالی ښودلی دی.

الجزیرې خبري شبکې د حماس په خبره لیکلي، چې «د خبرو د نوي پړاو پیلولو لپاره چمتو یو.» د راپورونو پر اساس، حماس ویلي، چې له منځګړو سره یې خپل ځواب شریک کړی او چمتو دي ژر تر ژره مذاکرات پیل کړي.

له دې وړاندې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ غزه کې د اوربند لپاره د ۶۰ ورځني اوربند طرحه وړاندې کړه او له اسرائیلو او حماس دواړو لورو یې وغوښتل چې اوربند ومني.

د اسرائیلو د لومړي وزیر دفتر دغې وړاندیز شوې طرحې سره چې په مؤقت ډول د نښتو پای ته رسول او د یرغملو شویو تبادله په کې شاملېږي، هوکړه کړې ده له دې سره، حماس بیا یوازې د خبرو لپاره چمتووالی ښودلی دی او تر اوسه یې د دغې طرحې د منلو یا ردولو په اړه جزئیات نه دي ورکړي.